## آرامي يې د زړونو

آرامي يې د زړونو - خالق يې د سيندونو
رڼا د لمر يې ته - ښکلا يې د خوبونو
ته مې يې ساتونکی - په سمه او طوفان
زه يم ماته بيړی - ته يې ښه بيړيوان
(۲)

تر مقصد د آزادی - سرتيری د ستا يمه
نعمت مې د ژغورنې - د فيض له ستا ګڼمه
(۲)

## اې پروردګاره

غبرګون:
اې پـرودګاره دا توره شپه رڼـا کـړې
اې پـرودګاره دا توره شپه رڼـا کـړې

ته قدوسه خدايه پاک ژوندون را کړې
تل په روښنايي له تيارې خلاصون را کړې

غبرګون:
غم او تکليف چې په مونږ وي آسان کړې
مونږ شکرګزار د ژوندون په دوران کړې
غبرګون:

خدايه زمونږه دا تور زړونه صاف کړې
مونږ په قرباني د عيسی مسيح معاف کړې

## اې پلاره مهربانه

غبرګون:
اې پلاره مهربانه - مسیحه په ما ګرانه
د ستا په نوم ژوندی یم - عیسی زما جانانه

بې تاب یم بې کراره - څوک نه لرم بې تانه
دعا مې لږه واوره - غمخواره او سلطانه
غبرګون:

چې کله شمه سترې - یا زړه مې شي ملاله
د ستا غیرږې ته راشم - آرام شم او کامرانه

غبرګون:

ما پریږده درته راشم - سکون به لږ څه واخلم
پوهیږې دغه ژوند ټول - طوفان دی بې امانه

غبرګون:

ستا غیږه کې پناه ده - ژوندون دی او بقا ده
هیڅا نه نه ویریږم - همدرد او مهربانه

په پاک روح سره پلاره - دا روح مې په کرار کړه
زمونږه کلیسا هم - سمسوره کړه ودانه

# اې د دنیا نوره

اې د دنیا نوره - ته راغلې تیارو ته
سترګې مې شوې خلاصې - تر څو ووینم زه تا
ستا ښکلا تیار کړم - ترڅو تا وستایم
زه امید لرمه - چې زما خدای یې ته

غبرګون:

دلته په دعا یم - دلته په ګونډو یم
دلته زه په جار وایم - چې زما خدای یې ته
زه یم په دعا کښې - زه یم په ژړا کښې
زه د ستا بچی یم - زما دعا واوره ته

ته یو لوی خدای یې - ځان دې کړو عاجزه
راغلې دې دنیا ته - دا دنیا کړه جوړه تا
د ګناه قیمت دې - ورکړو پر صلیب
قدر دې ونشو - دا دنیا کړه جوړه تا

غبرګون:

جلال پر آسمانونو - تا سره هم ښایي
څومره ته عظیم یې - اې زما خدایه ته
زه یم یو عاجزه - ته زمونږ پاچا یې
ستا یم دې هر وختې - چې یو مسیحا یې ته

غبرګون:

مینې ته محتاج یو - مونږه مینه غواړو
تا چې مینه راکړه - مونږه بریالي کړو تا

اې د مینې خدایه - بیا راشه دنیا ته
کوز شه له آسمانه - جوړ بیا مسیحا شه ته

**اې عیسی مسیح اې ځوی د خدا**

غبرګون:
اې عیسی مسیح اې ځوی د خدا
ته یې زمونږه مسیحا، ته یې زمونږه مسیحا (۲)

ته ځوی د خدا، ته یې مسیحا، ته یې پیشوا
ته ځوی د خدا، ته یې مسیحا، ته یې پیشوا
ته یې ژوندون، لیار او رڼا
ته یې زمونږه مسیحا، ته یې زمونږه مسیحا

غبرګون:

ته روح د خدا، ته یې کلمه، ته یې ازلي
ته روح د خدا، ته یې کلمه، ته یې ازلي
مړي ژوندي ستا په وینا
ته یې زمونږه مسیحا، ته یې زمونږه مسیحا

غبرګون:

ته یې لاربنود، ته یې مالک، ته یې آقا
ته یې لاربنود، ته یې مالک، ته یې آقا
ته د ړندو د لاس امسا
ته یې زمونږه مسیحا، ته یې زمونږه مسیحا

## اې مالکه اې مسيح

ما د خپل زړه ور د ستا پر مخ خلاص کړو
اې مالکه اې مسيح
ستا د روح نه زما وجود ډک شولو
اې مالکه اې مسيح
زه وم يو ورک شوی ګډوری د ستا
اې مالکه اې مسيح
لاره د ژوند مې پيدا کړه ستا پر مخ
اې مالکه اې مسيح

غبرګون:

عيسی مسيح زمونږ مالک اې مسيح
ته يې خالق، زمونږ خالق اې مسيح (۲)

زما ګناه دې پر ځان واخيستله
اې مالکه اې مسيح
چې صليب دې پر اوږو پورته کړلو
اې مالکه اې مسيح
د شيطان بند دې زما له پښو خلاص کړو
اې مالکه اې مسيح
خپل پاک روح دې ماته راوبښلو
اې مالکه اې مسيح

## پاڅه ګوره

غبرګون:
پاڅه ګوره نور د ستا وځلید (۲)
جلال د خدای، پر تا و ځلید جلال د لوی خدای

د نړی قومونه لاړل تیارې ته
نور د خدای پر تا به راوځلیږي
د مسیح لور ته به ټول هغوی راشي
تر څو د خدای د جلال نور ووینې

غبرګون:

هغه نور د جهان مونږ ته راغلی دی
عیسی مسیح تلپاتی ژوندون دی
ایمان راوړو نو وبه ژغوړل شو
تر پایه په نور د مسیح کې اوسو

غبرګون:

اې په خوب ویده پاڅه او راویښ شه
د مسیح نور به پر تا وځلیږي
په ګناه کې مونږ کله شریک نه شو
په نور کې به تل مونږه ژوندون وکړو

غبرګون:

## په توره شپه کښې

غبرګون:
په توره شپه کښې ظلماني - فرشتې راغلې نوراني
زیری یې راوړو د خوښی - خوشحاله شئ خوشحاله شئ
ځکه ژغورونکی د انسان - شولو ښکاره پدې جهان

پاکه ټوټه کښې یې تاو کړې - په آخور کښې خوبیدلی
لیدو ته یې ورمنډه کړی - خوشحاله شئ خوشحاله شئ
ځکه ژغورونکی د انسان - شولو ښکاره پدې جهان

عیسی مسیح له پاسه آسمان - اوس دې راغلی تر جهان
په ګونډو شئ ویې ستایئ - خوشحاله شئ خوشحاله شئ
ځکه ژغورونکی د انسان - شولو ښکاره پدې جهان

غبرګون:

عیسی زمونږه دی شپونکی - هم دی زمونږه ښښونکی
توبه وکړئ ایمان راوړئ - خوشحاله شئ خوشحاله شئ
تل دې ځلانده وي مسیح - هم دې وي ابدالاباد

## په خیر راغلې

غبرګون:
په خیر راغلې ته عیسی مسیح
په خیر راغلې ته عیسی مسیح

ته یې زمونږ د زړه ارمان، مونږ دې ورې یو ته مو چوپان
راغلې دنیا ته زمونږ منجي، مونږه بې څوکه ته نګهبان

غبرګون:

هللویا، هللویا، هللویا، هللویا
هللویا، هللویا، هللویا، هللویا

ته یې دنیا ته زیری د نجات، زوړ شمعون ورکړه دا ګواهي
پروت یې آخور کښې لویه پاچا، بیت اللحم کړي نن خوشالي

غبرګون:

ته یې پاچا د ټولې دنیا، ته یې مالک د ارض و سما
د مریم د زړګي سر یې ته، تا باندې ویاړم اې مسیحا

غبرګون:

**تاته سجده کوم**

تاته سجده کوم – تا به ستایمه زه
ته مې مالک یې - تا به ستایمه زه
ته مې خالق یې - تا به ستایمه زه

غبرګون:
مسیح حاجت زمونږ - مسیح راحت زمونږ
مسیح د ګل پشان ښکلی جنت زمونږ (۲)

ته چې راغلې دنیا ته ـ دنیا رڼا شوه
چې دنیا رڼا شوه ـ نو عقبی رڼا شوه (۲)

شپه شوه ختمه سبا رڼا شوه
تیاره لاړه دنیا رڼا شوه
ته چې راغلې دلته، په ریښتیا رڼا شوه

غبرګون:

**تیاره رڼا شوه**

تیاره رڼا شوه عیسی، عیسی وایه – وعده ریښتیا شوه عیسی، عیسی وایه (۲)

په زوړ تړون کې چې څه وعده شوې وه
هغه ریښتیا شوه عیسی، عیسی وایه (۲)

آدم ته هم دا وعده ورکړې وه چې – ګناه تباه شوه عیسی، عیسی وایه (۲)

ټوله خبر وه مسیح عیسی به راځي – ستوري ګواه شوه عیسی، عیسی وایه (۲)

که د سلیمان او که د داود ژوندون ؤ – ټول انتباه شوه عیسی، عیسی وایه (۲)

د اورشلیم په آخور کې چې وزیږیدی
شپونکي ګواه شوه عیسی، عیسی وایه (۲)

## چیرته چې پیدا کیږی

چیرته چې پیدا کیږي پوره واښه – اې شپونکیه ما هم ځان سره بوزه

دا ښکاره ده چې د ټول رمې غمخور یي – د رحمت دې خپره شوې آوازه

هلته چې اوبه یې هم وي خوندورې
او د لوړ غره څه رالویږي تر ژورې

ها چمن چې هم زرغون او شین ښکارېږي
په یو ځل لیدو یې کیږي اندازه
چیرته چې پیدا کیږي پوره واښه – اې شپونکیه ما هم ځان سره بوزه

## خدای زما ساتونکی دی

خپلې سترګې مې د غرونو لور ته واړولې (۲)
زما مرسته به له کومه ځایه راځي (۲)
خپلې سترګې مې د غرونو لور ته واړولې (۲)

هغه نپرېږدي چې ستا پښه وښوییږي
هغه چې ستا ساتونکی دی نه ویده کیږي
هغه داسرائیلو خدای نه ویده کیږي (۲)
ما سترګې د ساتونکي لور ته واړولې (۲)
زما مرسته به له کومه ځایه راځي (۲)
خپلې سترګې مې دغرونو لور ته واړولې (۲)

خدای د ستا ساتونکی دی اې یاره زما
خدای ستا ښي لاس ته سیوری دی اې یاره زما

خدای ستا ښي لاس ته سیوری دی اې ياره زما (۲)
خپلې سترګې مې د سیوري لور ته واړولې (۲)
زما مرسته به له کومه ځايه راځي (۲)
خپلې سترګې مې دغرونو لور ته واړولې (۲)

لمر په ورځ کې زيان نشي درکولی
سپوږمۍ په شپه کې زيان نشي درکولې
سپوږمۍ په شپه کې زيان نشي درکولې (۲)
خپلې سترګې مې د خدای لوري ته واړولې (۲)
زما مرسته به له کومه ځايه راځي (۲)
خپلې سترګې مې دغرونو لورته واړولې (۲)

يهوه خدای به له هرې بدۍ ساتي تا
هغه د ستا د ځان او مال ساتونکی دی
هغه د ستا د ځان او مال ساتونکی دی (۲)
خپلې سترګې مې د يهوه لور ته واړولې (۲)
زما مرسته به له کومه ځايه راځي (۲)
خپلې سترګې مې دغرونو لور ته واړولې (۲)

هغه ستا تلل راتللويني چې لوی رب دی
له اوسه تل تر تله چې د ستا رب دی
له اوسه تل تر تله چې د ستا رب دی (۲)
ما سترګې د ژوندي خدای لور ته واړولې (۲)
زما مرسته به له کومه ځايه راځي (۲)
خپلې سترګې مې د غرونو لور ته واړولې (۳)

## خدای کړو ښکاره

خدای کړو ښکاره مونږه ته خپل پلان
خپل ځوی رالیږي تر جهان
د ټولې نړۍ د خلاصون لپاره
خپل نور رالیږي تر جهان

غبرګون:
جلال دې په تا وي د لوی خدای ځویه
آرامي او سوله په جهان
خوشحالي دې وي په نسل د انسان
ته یې ستوری د آسمان

زمونږ د مالک د خلاصون زیری
ؤ زیری د ارض و سما
د خدای د خوښۍ يو لوی پیغام
زمونږ د دردونو دوا

غبرګون:

ټول خلک غمونو تیارو کې ؤ
غوښتلو یې ځان ته نجات
شپونکي، مجوسیان او زوړ شمعون
یو آسماني نور لټوي

## دا مځکه زمونږه

غبرګون:

دا مځکه زمونږه، پاس آسمان زمونږه
دا دنيا زمونږه، هغه جهان زمونږه
(۲)

مسيح زمونږه ځان دی --- زمونږه ايمان دی
د فخر لوړ نښان دی --- په مونږه قربان دی (۲)
مسيح زمونږ مالک دی، دا ايمان زمونږه
دا دنيا زمونږه، هغه جهان زمونږه

غبرګون:
ابرام وکړلو زيری - موسی وکړلو زيری
اشعيا وکړلو زيری - يحيی وکړلو زيری
روح القدوس هم وکړلو - امتحان زمونږه
دا دنيا زمونږه - هغه جهان زمونږه

غبرګون:

حوا ته يې وويلې - په راز يې پوهولې
داود هم ترې خبر ؤ - چې څه يې وويلې
چی څه به په صليب کړي - ځوی د انسان زمونږه
دا دنيا زمونږه - هغه جهان زمونږه

## دا هغه ورځ ده

دا هغه ورځ ده دا هغه ورځ ده
چې خدای جوړه کړې چې خدای جوړه کړې
مونږ به مستي کړو مونږ به مستي کړو
مونږ یو خوشاله پکې مونږ یو خوشاله پکې

## راغلې اورشلیم

غبرګون:
راغلې اورشلیم ته اې عیسی جانه
مونږ شولو خوشاله وایو هوزینا
هوزینا، هوزینا، هوزینا
وایو هوزینا، وایو هوزینا

ته زمونږ پاچا یې - ته زمونږ پیشوا یې
ته په مونږ فدا یې - ته مو رهنما یې
هر کله راشې ګرانه جانانه - مونږ شولو خوشاله وایو هوزینا

غبرګون:

اې زمونږ سرداره - اې زمونږه پلاره
ستا په انتظار یو - اې د زړه کراره
راشه بریالی او فاتحانه - مونږ شولو خوشاله وایو هوزینا

غبرګون:

ته زمونږ سکون یې - ته زمونږ ژوندون یې
ستا په نوم یادیږو - ته زمونږه شپون یې
ویاړو به په تا شاه شاهانه - مونږ شولو خوشاله وایو هوزینا

## راغی مسیح

غبرګون:
راغی مسیح په دې جهان - خوشاله شئ اې مومنان
ويې ستايئ   ويې لمانځئ - راغی منجي د هر انسان
(۲)

دا دی زمونږ خدای بې مکان - شولو ښکاره په دې جهان
د مخ له نور نه يې رڼا - شولو ځمکه او آسمان
غبرګون:

دا دی خدای له پاس آسمان - چې ؤ پټ له هر يو انسان
په لباس د بندګۍ کښې - شو د ګمراهانو چوپان

غبرګون:

ماشومانو مه کړئ خپګان - خوشاله شئ په زړه او ځان
نن په بيت اللحم کښې - منجي د عالم شو عيان

## روح يې دې راکړی

غبرګون:
روح يې دې راکړې تل ژوندون ته خوشحالۍ
مسیح راکړه آزادي د تيارې له غلامۍ
(۲)

هغه نور شو د جهان، هم شفا د هر انسان (٢)
لاره دې ژوندون شو، تل به کړو ورته زارۍ
مسيح راکړه آزادي د تيارې له غلامۍ

غبرګون:

په قدمونو يې روان، ټول قومونه د جهان (٢)
راغلو، شو چوپان، مونږ يې ګډوري د رمې
مسيح راکړه آزادي د تيارې له غلامۍ
غبرګون:

معجزو کښې يې ښکاره، رڼا زړونو کښې خوره (٢)
هر څه يې پوره کړه پر صليب د قربانۍ
مسيح راکړه آزادي د تيارې له غلامۍ

## زما زړه

زما زړه د مالک خدای لويي بيانوي
زما زړه د ژغورنکي په نوم خوشحاليږي
هغه چې ما عاجزې وينځې ته وکتل
ټول نسلونه به ما بختوره ګڼي

غبرګون:
اې عيسی ته يې شاه د جهان
اې عيسی ته مالک يې د ځمکې آسمان (٢)

خدای زما لپاره ډير کارونه کړيدي
او نوم يې ډير لوی او سپيڅلی دی

رحمت یې نسل نسل له خلکو سره دی
هغه ذات ډیر اوچت او نازولی دی

غبرګون:

هغه د خپل متې زور ښکاره کړیدی
لویان کبرجنان یې رانسکوره کړل
ټول وږ.ي یې ماړه په نعمتونو کړل
شتمن او مالداران یې خالي لاسونه کړل

غبرګون:

خدای د خپل رحمت یادښت نن بیا وکړلو
وعده یې له ابراهیم سره ریښتیا کړله
خپل خادم اسرائیل سره یې مرسته وکړه
حیرانه یې پدې سره دنیا کړله

## زه ستا ورک شوی څوی وم

غبرګون:
زه ستا ورک شوی څوی وم، تا زه وموندلم، ما ته وموندلې
زه وم یو ورک ګډوری، تا زه وموندلم، ما ته وموندلې

زه په ګناه کې مړ وم - زه ټول خاورې په سر وم (۲)
زه ټول خاورې په سر وم - په مرګ باندې محکوم وم (۲)
بې لیارې مسافر وم، احسان ۀ ستا مالکه - تا زه وموندلم، ما ته وموندلې
(۲)

غبرګون:

زما بېړی وه ماته - ورتلم په طوفانونو (۲)
روان سر په صحراه وم - ورتلم په ګړنګونو (۲)
پاک روح دې رانازل کړ – تا زه ومونډلم ما ته ومونډلې (۲)

غبرګون:

د خدای ریښتینی ځویه - دنیا دې کړله پاکه (۲)
په اور او په اوبو دې - بشر کړلو بې باکه (۲)
تعمید د ژوند سمبول شو - تا زه ومونډلم ما ته ومونډلې (۲)

**زیری کوئ، زیری کوئ**

غبرګون:
زیری کوئ، زیری کوئ – د حق رڼا راځي
(عالمه غوږ ونیسئ ماته ۲) مسیح عیسی راځي

نوی ژوندون دنیا ته راغی - د مسیحا له لورې
نوی تړون دنیا ته راغی – د مسیحا له لورې
مثبت بدلون دنیا ته راغی – د مسیحا له لورې
د حقیقت غږ وروي – دی په ریښتیا راځي

غبرګون:

د ګناهونو بار مو سپک شو – د مسیحا له لورې
د دښمنۍ بازار مو ورک شو – د مسیحا له لورې
د محبت ژوندون چټک شو – د مسیحا له لورې
زموږ ژوندون رڼا کوي (۲)– د حق رڼا راځي

غبرګون:

د خدای کلام ډیر قدرمن دی – مسیح ګواه دی د دې
حقیقت ټولو ته څرګند دی – مسیح ګواه دی د دې
آرامی زړه ته ورکوي – دی په ریښتیا راځي

غبرګون:

ړانده يې ټوله بینا کړې – د مسیحا قدرت دی
ګوډان يې ټول په منډه کړی – د مسیحا قدرت دی
آرامي زړه ته ورکوي (۲)– دی په ریښتیا راځي

غبرګون:

خدایه خوشبخته دا نړی کړې – د مسیحا له لورې
ټول مومنان غاړه غړی کړې  - د مسیحا له لورې
د نفرت کور ټوله شړی کړې – د مسیحا له لورې
تیارې د ځمکې ورکوي (۲) – دی په ریښتیا راځۍ

**ژغوري به مو خدای**

غبرګون:
ژغوري به مو خدای د عیسی په نام
ترې هر انسان دی ستا د پاک کلام

ستا کلام قدرت لري ژوند او محبت لري
تل پوره کوي د رنځور زړونو ارمان

ستا صلیب ایمان غواړي - پاک زړه د انسان غواړي
ستا حکم ببنل دی نشته انتقام

## ژوند مو يي ته مسیح

ژوند مو يي ته مسیح – قدرت مو ته مسیح
هیله مو ته مسیح
مسیح، مسیح او مسیح
مسیح ستایم په ټوله ژوندون
مسیح ستایم په ټوله قوت
مسیح ستایم په ډیر زیات عزت

په ټول قوت – په ټول طاقت
په ډیر زیات عزت

## ژوندون شو خلاصه

غبرګون:
ژوندون شو خلاصه د دوه فرمان ـــ مینه د خدای مینه دانسان (۲)

د خدای حکم دی مینه
ما تویه کړله وینه ـ ما تویه کړله وینه (۲)
د دې لپاره شومه صلیب باندې قربان
مینه د انسان (۲)

غبرګون:

خدای هم مینه غواړي
بشر هم مینه غواړي ـ بشر هم مینه غواړي (۲)
خدای او انبیاؤ همدا وکړ اعلان
مینه د انسان (۲)

غبرګون:

راځئ چې مینه وکړو
له کرکې لاس په سر شو ـ له کرکي لاس په سر شو (۲)
ریا نه شو بیزاره سوچه ایمانداران
مینه د انسان (۲)

غبرګون:

ریښتینې مینه وکړو
مالک به شي خوشاله - مالک به شي خوشاله (۲)
مسیح سره به وکړو یو کلک لوظ او پیمان
مینه د انسان (۲)

## ستاسو زړونه

ستاسو زړونه پریشانه نه شي - پر خدای همیشه توکل ولرئ

غبرګون:
عیسی سرور د سولې راشه زړګي ته زما
عیسی شاهِ جهان واکمن اوسه پر دې دنیا

دا دنيا ډيرې ستونزې لري
زړور اوسئ عيسی بريالی شويدی
عيسی ويل زه يم لياره، ريښتيا او ژوندون
زما پرته به بل څوک پلار ته و نه رسيږي

غبرګون:

ترينه وغواړئ جولۍ ډکې کړئ
له خوښۍ به شي ډکه دا ارض و سما
بيا راځي له آسمان مځکې ته
وړي به مونږ ځان سره تر عقبی

## ستا وعده

غبرګون:
ستا وعده وه له ازل، خدايه ته شوې زمونږ مل
دعيسی په قربانی (۲)

لمسه وې زمونږه زړونه - پاکه وې زمونږه عيبونه (۲)
راسره اوسيږې تل، خدايه ته شوې زمونږ مل
د عيسی په قربانی

غبرګون:

مونږ په تا وکړو باور - لـه تيارو د کړو بهر (۲)
مونږ په تا کړی توکل - خدايه ته شوې زمونږ مل
د عيسی په قربانی

## ستایم به دې عیسی

غبرګون:
زمونږ د زړه نغمه یې ته ـ صفت کښې آراسته یې ته
له هر چا نه ښایسته یې ته ـ ستایم به دې عیسی
ستایم به دې عیسی (۲)

خاوند د لوی عزت یې ته ـ خاوند ده لوی قدرت یې ته
د رب خوی او خصلت یې ته ـ ستایم به دې عیسی (۲)

غبرګون:

مړي دې ژوندي کړي تا ـ ړانده دې بینا کړي تا
شلان دې شفا کړي تا ـ ستایم به دې عیسی (۲)

غبرګون:

اوبه دې تابع کړي تا ـ پیریان دې هم ویستلي تا
شیطان را پرزولی تا ـ ستایم به دې عیسی (۲)

غبرګون:

مړي دې ژوندي کړي تا ـ ړانده دې بینا کړي تا
شلان دې شفا کړي تا ـ ستایم به دې عیسی (۲)

غبرګون:

اوبه دې تابع کړي تا ـ پیریان دې هم ویستلي تا
شیطان را پرزولې تا ـ ستایم به دې عیسی (۲)

## شنې شنې

شنې شنې ونې هره خوا
ټول ثنا وایي د عیسی (۲)
هر یو ګل چې د فالیز دی
په صفت کې یې لبریز دی (۲)
خپل ایمان په مونږ ډیر ګران دی
بې ایمانه ژوندون ګران دی (۲)
ستا مقام تر ټولو زور دی
ستا زمونږ په زړه کې کور دی (۲)
په زاری درته درځم
مسیحا نه دې هیروم (۲)
کلیسا ته ځم په مینې
سوال کوم عیسی مې ویني (۲)
ورکوم د زړګي وینه
په عیسی لرمه مینه (۲)
درته ژاړو هره ورځ
چې زمونږ ښخه لیرې شي مرض (۲)

## عمانوئیل

په فیض د عیسی مونږ بریالي یو په دنیا
په نوم د عیسی به ماتوو هره کلا
عمانوئیل فاتح یې د دنیا
عمانوئیل ته فیض وکړه پر ما
عمانوئیل پر ټوله کلیسا
عمانوئیل (۳) عیسی

د آسماني لښکر سره مونږ هم غږي شو
هاویه لمنځه وړو په نوم کښې د عیسی
عمانوئیل فدیه یې د دنیا
عمانوئیل رحمت وکړه پر ما
عمانوئیل پر خلکو د دنیا
عمانوئیل (۳) عیسی

په خوشۍ او خوشحالۍ ستا ستاینه کوو
په مینه محبت کښې پیرزوینه کوو
عمانوئیل خالق یې د دنیا
عمانوئیل دردمن زړه ته دوا
عمانوئیل قادر یې په هر چا
عمانوئیل (۳) عیسی

**عیسی مسیح دی**

غبرګون:
عیسی مسیح دی د دنیا ژغورونکی
عیسی مسیح دی د صبا ساتونکی

عیسی مسیح بې ګناه لار صلیب ته
دئ دی د ټولو په ریښتیا ژغورونکی
عیسی مسیح دی د صبا ساتونکی

غبرګون:

د دنيا خلکو ټول ګناه کړيده
دئ دی ريښتنی بې ګناه ژغورونکی
عيسی مسيح دی د صبا ساتونکی

غبرګون:

په دريم ورځ بيرته راپورته شولو
آسمان ته پورته چې شو بيا ژغورونکی
عيسی مسيح دی د صبا ساتونکی

غبرګون:

د پنطيکاست اختر وعده په ځای شوه
د روح القدس په ملګرتيا ژغورونکی
عيسی مسيح دی د صبا ساتونکی

## عيسی مسيح راته ښښي

غبرګون:
عيسی مسيح راته ښښی نوي فيضونه کنه
(نوي رازونه کنه ۳)

د محبت پاچا دی
(دی د رحمت پاچا دی ۳)
و مومنانو ته ښيي
(نوي درسونه کنه ۳)

غبرګون:

وایي په ما پسې ځئ
(او په ریښتیا پسې ځئ ۳)
په ځان قبول کړه په دې لار کې تکلیفونه
(نوي رازونه کنه ۳)
غبرګون:

وسواس نه ځان وساتئ
(خناس نه ځان وساتئ ۳)
چې معجزو ته  دې آرام شي طوفانونه کنه
(نوي رازونه کنه ۳)

## عیسی، عیسی

عیسی، عیسی اې ځوی د خدا - مونږ ستا ستاینه کوو
عیسی عیسی اې منجي زما - مونږ تا سره مینه کوو

غبرګون:
غواړو چې جلال دې ووینو - غواړو چې په مینه دې پوی شو
غواړو داسې ځواک مونږ ولرو - ستا دولت دې دلته کې راشي

عیسی عیسی خالق یې د دنیا - مونږ دې پیدا کړلو
عیسی عیسی ته نور یې د دنیا - مونږ دې آزاد کړلو

غبرګون:

عیسی عیسی اې ځوی د خدا - ته مونږ سره مینه کوې
عیسی عیسی ګډوری د مولا - مونږ دې وژغورلو

## قدرت دې راوښایه

قدرت دې راوښایه وښایه وښایه
قدرت دې راوښایه اې خدایه (۲)

غبرګون:
پریږده یو نښان خپل منځ کې د بچیانو خپل وځلوه
لکه د سیلاب قدرت او باران د رحمت و وروه

جلال دې راوښایه وښایه وښایه
جلال دې راوښایه اې خدایه (۲)

غبرګون:

حکمت دې راوښایه وښایه وښایه
حکمت دې راوښایه اې خدایه (۲)

غبرګون:

رحمت دې راوښایه وښایه وښایه
رحمت دې راوښایه اې خدایه (۲)

## قدرتونه

قدرتونه به دې ستایم - حکمتونه به دې ستایم
ته مالک د کل جهان یې - رحمتونه به دې ستایم

غبرګون:
هللویا، هللویا، هللویا،هللویا (۲)

تا حکمت وکړو پریمانه - تا رحمت وکړو پریمانه
تا خپل ځوی راولیږلو - ستا نصرت ؤ بې پایانه
نصرتونه به دې ستایم - حکمتونه به دې ستایم
ته مالک د کل جهان یې - رحمتونه به دې ستایم

غبرګون:

تا احسان وکړو مالکه - چې دې ځوی راولیږلو
مکارانو ظالمانو - پر صلیب وخیژولو
احسانونه به دې ستایم - حکمتونه به دې ستایم
ته مالک د کل جهان یې - رحمتونه به دې ستایم

غبرګون:

ته چې لاړې تر آسمانه - مونږ سرلوړي شو کامرانه
اوس د ستا په انتظار یو - اې مالکه په مونږ ګرانه
خدمتونه به دې ستایم - حکمتونه به دې ستایم
ته مالک د کل جهان یې - رحمتونه به دې ستایم

## قدوس، قدوس

قدوس، قدوس، قدوس
زما خدایه ته یې قادر مطلق
چې وې او یې او را به شې
ډک دی له جلال نه ځمکه آسمان

ته لایق، ته لایق - ته لایق اې ګډوريه د خدای
چې وینه دې خپله قربان کړله
د نړی له قومونو دې خلک واخیستل

ته لایق د برکت – ته لایق د حرمت
ته لایق د جلال – ته لایق د قدرت
ته لایق د عبادت – ته لایق د ابدیت

ته لایق د حمد و صفت – ته لایق د ستاینې
ته لایق زما د زړه – ته لایق زما د ځان
ته لایق مې د فکرونو – ته لایق د قدرتونو

## کلیسا سر عیسی دی

غبرګون:
کلیسا سر عیسی دی - مونږ یې ټوله اندامونه
ټول رازونه ورته وایه - ورته وړاندې کړه سوالونه

خدای پخپل کلام کښې وایي - چې زما په نوم ټولیږئ
زه هم هلته ورسره یم (۲)
پوره کړم به یې آرمانونه

غبرګون:

نجات یې درته ښنلی - درښني ښکلې تاجونه
ټول رازونه ورته وایه - ورته وړاندې کړه سوالونه

**لار ځینې خطا ده**

نن زمونږ وطن کې (۲)
ګوره جوړه واویلا ده (لار ځینې خطا ده ۴)
هر کور چې ګورې (۲)
سترګه ډکه د ژړا ده (لار ځینې خطا ده ۴)
د انسان سوځونه (۲)
دا بولي چې روا ده (لارځینې خطا ده ۴)

د انسان وژنه (۲) نور په خپل وطن کې نه منو
(خدای خبره ښه منو ۴)
د ځنګل قانون (۲) او د وحشت خبره نه منو
(خدای خبره ښه منو ۴)
کوم لاره چې دوی (۲)
انتخاب کړې ده تباه ده ( لارځینې خطا ده ۴)
په بم او مینونو (۲)
ګران وطن ټول په هوا ده ( لارځینې خطا ده ۴)
وحشت شروع شوی (۲)
دوی بیا وایي چې غزا ده (لارځینې خطا ده ۴)

څه چې مقدس کلام کې وایي حرف هغه منو
(خدای خبره ښه منو ۴)
راشئ ایماندار شئ (۲)
د عیسی کلام حرف ومنو (خدای خبره ښه منو ۴)
مینه وروروليۍ کوئ (۲)
د زړه یو بل مو ومنو (خدای خبره ښه منو ۴)
بل د شیطان جنګ ته تیاری ښه په ریښتیا ده
(اصل لاره دا ده ۴)

# لاره د مسیح

غبرګون:
لاره د مسیح ده، کړاونه امتحان غواړي
مینه او ایمان غواړي، مینه او ایمان غواړي
دغه لار زمونږ نه قرباني د سر او ځان غواړي
مینه او ایمان غواړي، مینه او ایمان غواړي

اوسي مسیحیان پکې - ښه ایمانداران پکې (۲)
پورته په اوږه دا د صلیب عظیم نشان غواړي
مینه او ایمان غواړي، مینه او ایمان غواړي

غبرګون:

څو ټول د سینا په لور - هم د جلجتا په لور (۲)
مونږ نه د صلیب نشان لوړ په ټول جهان غواړي
مینه او ایمان غواړي، مینه او ایمان غواړي

غبرګون:

دا دی د متی آواز، دا دی د لوقا آواز
دا د یوحنا آواز
ځان ته د پولس په شان رهبر حکیم انسان غواړي
مینه او ایمان غواړي، مینه او ایمان غواړي

## لازوال يې ته

غبرګون:
لازوال يې ته ــ بې مثال يې ته
اې د خدای ځويه ــ لازوال يې ته
ته ربنا يې ته ــ ته ښکلا يې ته
زه به ستايم تا ــ بې همتا يې ته (۲)

ته يې نور د جهان ــ ته يې ښه باغوان
اې پلاره زمونږ ــ ته يې ښه چوپان
ته د ژوند ډوډۍ ــ ته اوبه د نجات
ته يې ليار ريښتيا ــ ته قيامت او حيات

غبرګون:

ته د شپول ور يې - يو اصلي تاک يې
د شاهانو شاه ــ له ګناه پاک يې
ستا په ليار يو روان ــ اې منجي د جهان
غواړو ژوند ابدي ــ راشه له آسمان

## لر او بر

غبرګون:
پښتون لر او بر، مسيح زمونږ رهبر (۲)

مسيح د زړه درمان، مسيح زمونږ ايمان
مسيح زمونږه شان، مسيح په مونږه ګران
پيغام به يې هر ګوټ د دې دنيا ته رسوو
پيغام به يې هر ګوټ د دې دنيا ته رسوو

غبرګون:

دا د مسیح کاروان، روان پدې جهان
مسیح يې قهرمان، د فخر لوړ نشان
ځانونه د عرب له غلامۍ نه خلاصوو
ځانونه د عرب له غلامۍ نه خلاصوو

غبرګون:

مونږ خپل مسيحيت - هم نن اعلانوو
په نوم د مسيحا - خپل ځان قربانوو
پيغام د محبت به يې دنيا کښې خورؤ
پيغام د محبت به يې دنيا کښې خورؤ

**مبارکي درکوو**(تعمید)

زړه يې مين شو په عيسی – مبارکي درکوو
دغه ده مينه د ريښتيا – مبارکي درکوو

پخپل ژوندون ؤ په تنګ – ؤ و هر چاته په جنګ
پيدا شوه لاره د ريښتيا – مبارکي درکوو

ژوندون مو ؤ خوار او زار – په بد بختۍ او وزګار
اوس ټول تياره شوله رڼا - مبارکي درکوو

## مرتبه، مرتبه

مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه
په وخت د تنګدستئ کې خدای ستا اوري دعا
په وخت د تنګدستئ کې خدای ستا اوري دعا
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه

امداد د خپل مقدس نه ستا لپاره راليږي
امداد د خپل مقدس نه ستا لپاره راليږي (٢)
سمبال دی په صهيون ساتي ملګريه هميشه (٢)
خدای سره لرې ډيره اوچته مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه (٢)

ستا کړې قربانئ يې کړې همه واړه قبولې
ستا کړې قربانئ يې کړې همه واړه قبولې (٢)
په جار باندې يې يادې نذرانې کړې واړه ستا (٢)
خدای سره لرې ډيره اوچته مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه (٢)

په زړه دې چې څه ؤهغه يې تاته را انعام کړل
په زړه دې چې څه ؤ هغه يې تا ته را انعام کړل (٢)
پوره يې کړې ستا ټولې منصوبې ذره ذره (٢)
خدای سره لرې ډيره اوچته مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لويه مرتبه (٢)

په نوم د خپل خدای پورته جنډې کړه ثنا خوان شه
په نوم د خپل خدای پورته جنډې کړه ثنا خوان شه (۲)
نغمو ستا د خلاصون کې مونږه هم یو درسره (۲)
خدای سره لرې ډیره اوچته مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لویه مرتبه
مرتبه مرتبه ستا لویه مرتبه (۲)

په وخت د تنګدستئ کې خدای ستا اوري دعا
په وخت د تنګدستئ کې خدای ستا اوري دعا
مرتبه مرتبه ستا لویه مرتبه(۲)

## مړو نه راپورته شو

غبرګون:
مړو نه راپورته شو دا زمونږه شپون
مونږ شولو خوشاله ستا په لوی پاڅون (۲)

قبر نه بهر شوې ته یې لوی مالک زمونږ
خلک دې حیران کړل ته یې لوی سالک زمونږ
ځان دې کړو ښکاره ستا دښمن شولو زبون
مونږ شولو خوشاله ستا په لوی پاڅون

غبرګون:

ولاړ ؤ په هر ځای کښې واړه شاګردان
کړلې یې پوښتنې ټول وو هک حیران
ته پرې راښکاره شوې ور دې کړ سکون
مونږ شولو خوشاله ستا په لوی پاڅون

غبرګون:

بيا دې سفر وکړ تا له دې جهان
شولې ته ورپورته تر لوړ آسمان
پاک روح دې نازل کړ راغی یو بدلون
مونږ شولو خوشاله ستا په لوی پاڅون

غبرګون:

## مسیحا په تا کښې خوشحالي

مسیحا په تا کښې خوشحالي کوم - په سختی کښې دې راغواړم
هره ورځ ستا نوې سندرې وایم - ته يې امید زما د ژوند

غبرګون:
راسره اوسه تل ، اوسه تل خدایه - ځان مې تاته سپارلی دی (۲)

مسیحا ګډوري خپل چیرې پیایې - په چمن د محبت کښې
له مرګ نه به زه ولې ویریږمه - چې مسیح دی زما شپونکی

غبرګون:

د مسیح لار ډکه له اوبو او چینو - لاره ده نیغه او مینه
د مینې ویالې به يې کړي خړوبه - څوک چې تږی وي را دې شي

غبرګون:

راځي مې تر غوږه ستا غږ اې عیسی - چې ومې غواړې را به شم
ما له خپل ځان سره ساته اې عیسی - چې تل دې ثنا ووایم

## مسیحا په تا باندې ویاړم

غبرګون:
مسیحا په تا باندې ویاړم - مسیحا په لیار دې ولاړ یم
مسیحا ستا مینه سکون دی - مسیحا ستا مینه ژوندون دی
په لیار به دې مونږه روان یو - زمونږه هدف ستا لټون دی

غبرګون:

مسیحا ته لیار او ژوندون یې - ته نور د جهان زمونږه شپون یې
تا مړي ژوندي کړل په ربښتیا - اوبه د حیات زمونږه یون یې

غبرګون:

مسیحا زمونږ پادشاه یې - ړندو ته د لاس یو عصا یې
ثنا به دې وایم همیشه - زمونږ لاربښود رهنما یې

## مسیح د ژوندون نغمه

غبرګون:
اې مسیح اې مسیح ته یې د ژوندون نغمه
اې مسیح اې مسیح ته یې د سکون نغمه

مونږ په طوفانونو کښې ستا غیږې ته راغللو
مونږ د ژوند موجونو کښې ستا غیږې ته راغللو
رحم وکړه وګوره مونږ باندې احسان وکړه
ته یې لوی مالک زمونږ مینه د یزدان وکړه

غبرګون:

مونږ به ستا مخلوق سره ژوند د محبت کوو
مونږ به هر انسان سره مینه او الفت کوو
مونږ درنه توفیق غواړو او یو لوړ همت غواړو
ستا له لورې خدایه مونږ ځواک غواړو قوت غواړو

غبرګون:

مونږ په محبت کښې ژوند تاته دربښلی دی
مونږه دواړه سر او مال تاته دربښلی دی
تا سره وعده کوو کلک عهد او پیمان کوو
دا په پوخ یقین سره او په پوخ ایمان کوو

## مسیح زمونږ پاچا

غبرګون:
مسیح زمونږ پاچا دی هوزینا - مسیح زمونږ پیشوا دی هوزینا
مسیح تر ټولو بالا دی هوزینا - مسیح زمونږ آقا دی هوزینا
هوزینا هوزینا هوزینا - هوزینا هوزینا هوزینا

ځان یې کړ قربان زمونږ لپاره - وې کړ احسان زمونږ لپاره
راغی دې دنیا ته زمونږ لپاره - رایې وړ ارمان زمونږ لپاره
هوزینا هوزینا هوزینا - هوزینا هوزینا هوزینا

غبرګون:

مسیح دی رڼا د دې جهان - مسیح دی ښکلا د دې جهان
مسیح دی ریښتیا لیار او ژوندون - مسیح دی شپونکی او ښه باغوان
هوزینا هوزینا هوزینا - هوزینا هوزینا هوزینا

## مسیح زمونږ مولا

غبرګون:
مسیح دی زمونږ شپونکی او زمونږ مولا
خپل ژوند یې قربان کړلو زمونږ پر ګناه

راځئ راځئ خلکو توبه وباسئ - ایمان راوړئ په نوم د یو مسیحا
په مینه فیض سره ورونه ورونه شئ - ځانونه خلاص کړئ له پیټي د ګناه

غبرګون:

مسیح چینه ده د هر یو حقیقت - مسیح بیلګه ده د هر یو عدالت
و غواړئ هغه نه هر ناز و نعمت - در به کړي تاسو ته عزت او قدرت

غبرګون:

په شنو پټو کښې مونږ پیایي د جنت - راکوي مونږه ته عزم او همت
مونږ یې آزدا کړلو رایې کړو راحت - هغه سلطان دی د هر یو سلطنت

غبرګون:

## نازل شه

غبرګون:
نازل شه، نازل شه ،نازل شه - اې پاکه روحه نازل شه (۲)

پاکه روحه راشه زما زړه ته - ما په غیرړه کې خپل ونیسه
زړه مې ډک کړه له خپل فیض نه (۲)
نازل شه ـــــــ نازل شه

غبرګون:

پاکه روحه ته راشه ضرور - زمونږ زړونه ډک کړه ته له نور
مونږ ته راکړه آسماني سرور (۲)
نازل شه ـــــــ نازل شه

غبرګون:

زمونږ زړونه کړه آرام پاکه روحه - مونږه ټول کړه نیکنام پاکه روحه
ساته مونږ له هر دام پاکه روحه (۲)
نازل شه ـــــــ نازل شه

## وايو هللويا

غبرګون:
وایو هللویا، شکر یې هللویا، حمد یې هللویا
ستاینه کوو مونږ نوم د عیسی (۲)

عیسی راکړلو خلاصون، مونږ ته ابدي ژوندون
مونږه وري هغه مو شپون - ستاینه کوو مونږ نوم د عیسی (۲)

غبرګون:

مونږ په وینو د عیسی - تل آزاد شوو په ریښتیا
هم شو پاک او بې ګناه - ستاینه کوو مونږ نوم د عیسی (۲)

غبرګون:

عیسی دی زمونږ رهبر - په هر راز د زړو خبر
په صلیب یې کړو فخر - ستاینه کوو مونږ نوم د عیسی (۲)

**هر امرې منمه**

عیسی مسیح ته – (شکرانه ادا کومه۲)
هر امرې منمه سوال یې منظور کړ

عیسی مسیح زمونږ ږغ اوري
زموږ د هیلو پایلې راوړي

د صلیب قدر یې په سر او ځان کومه
هر امرې منمه سوال یې منظور کړ

عیسی مسیح ډیر مهربان دی
د مومنانو قدردان دی

په شکرانه کې ورته سر وړاندی کومه
هر امر یې منمه سوال یې منظور کړ